# مسلمان هغه ثوک دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امان کې وي او مهاجر هغه ثوک دی چې هغه څه پرېږدي چې الله پاک ورڅخه منعه کړی وي

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «مسلمان هغه ثوک دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امان کې وي او مهاجر هغه ثوک دی چې هغه څه پرېږدي چې الله پاک ورڅخه منعه کړی وي».
[صحيح] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د کامل اسلام خاوند هغه ثوک دی چې د هغه له ژبې څخه مسلمانان په امن کې وي، نه ورته کنځلې کوي، نه پرې لعنت وايي، نه يې غیبت کوي او نه يې تر منځه يو بل ته د هېڅ ډول ضرر رسولو هڅه کوي. او د لاس څخه يې په امن کې وي، نو تېری پرې نه کوي، له حق پرته يې مالونه نه اخلي او داسې نور. او مهاجر هغه دی چې هر هغه څه پرېږدي چې الله تعالی ترې منع کړې دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10101